مصطفی پسرلی ۲۰۱۹/۱۰/۳۰

# غزل

# ما نه ژوند د حورو په کېسو اخلي

در به شي تر غوږ زما د مرګي آواز
وي به زما خپل نه د پـردي آواز
سپړه د ګریوان ریښې ببوسه یـم
شیخ کړی په ما د نیم سړي آواز

ما نه ژوند د حورو په کېسو اخلي
ځـان تـه غـږوي د زنــدګي آواز
ځان ته دي جنت په دنیا ډېر خوښ دی
ما بـانـدې کـوي د دوزخـي آواز

واک، قدرت د زړه په غوږو کوڼ کړلې

بد لګي په غـوږ دې د ساقي آواز

پرېړده پسرلېه په خزان خوښ دي

نـه اوري دا خلک د سپرلي آواز

۲۰۱۹/۱۰/۱۸

## يادونه:

که چیری ګران لوستونکی و غواړی چی د دی شاعر نوری لیکنی او سرودونو هم ولولی، نو کولای سی چی، پر انځور باندی د «کلیک» په اجرا کولو سره د لیکونکی مقالی د «آرشیف» فهرست ته، لار ښودنه تر لاسه کړی!

ما نه ژوند د حورو په کېسو اخلي
Mostafa_p_de_hooro_kissa.pdf